






د مجيب الرحمن « خطيبي » ليکنه
د نشر نيټه : ۲۳ جون ۲۰۱۳ ميلادی

# پرخه

هرسهار مخکی له دې

چې

د سهار رڼا او

د لمر وړانګې ښوري شي

د بلبلو

شور ماشور

پيل شي

د سهار سړه هوا

راښوره شي

هغه

سړه او سپينه

چې کله

به مې

په

سر

کله په مخ

او کله په تندي

راولویده

بیا به ځرګنده شوله

خو دا ځل بل شان را پریوته

په داسي ځاي کي

چې

ما بڼه لیده

همدا چې سترګې مې

خلاصي شوي

هغه  د واورې پشان

سپین مخ

مې ولید

یوه عجیبه غوندي

سړه لړزه

مې

په اوجود راغله

غړیدلیوسترګوته یې

وهڅېدم

هو

هغه غټې غټې سترګې

چې له موسکا سره نورې هم

اوښلنې شوې

راکتل

ما سر وښوراوه

هغې هم

ورو وويل

وبښنه

ها ؟

دا څه ؟

هغې

ولې ببښنه وغوښته ؟

و مې پوښتل

چې ولې؟

په يو معصوميت يې وويل

ځکه چې

پرته ستا د خوښې

د ځمکې

د پانړې

بس د يو

غشي په شان پري پريوزم

څه وكم

زما په واك كي نده

څه وكم

هر سهار بايد

خوبولې

بوتې له خوبه راپاڅوم

چې د خداي

په ثنا شي

هغه غږيده

كله به يې سترگې څو ځلې

رپول

كله به يې پټول

كله به يې

خندل

كله بې ژړل

په يو وار

ژوندي شوم

زه هم ورته موسكى شوم

نا څاپه يې وويل

ولې داسي راپلو گوري ؟

په ما زمه سوزوه

ځکه چې دا د پاك سبحان

غوښتنه ده

نن زه

سبا ته
موږ د ټول روان یو

زه حیران وم

چې دا ولې داسې وایې

ولې داسې خپه ده

ولې ؟

څه ځواب نه وو

زه یو شیبه کې نړیته راځم

او په شیبه کې محوه کیږم

همداسې غږیده

چې

دلمر واړنکې راڅرګندې شوې

هغه چې دیره موسکې وه

په لرزه شوه

له سترګونه یې اوښکه

په سوړ مخ راغله

ما وویل

ولې ؟

د غوصینه ډك

غږ سره یې وویل

بس زما د محوه کیدو

وخت راورسید

حیران شوم

چې دا څه وایي

بیا مې وپوښتل

ولې داسي وایي ؟

خوله یې کونځې کړه

او وویل

د هرشي یو دښمني وي

خو زما د ښمن لمر دی

د خپل په تودوښه

ما محوه کوي

دا څه وایي ؟

خیر مه خپه کیږه

ته به هم یو ورځ

همداسي محوه شي

د دي لپاره

یو څه وکه

د خپل ځان په سودا شه

په همدا خبرو کې وه

چې ورو ورو

راتوله شوه

د اوبو د څاکو

پشان کيده

ما ورته وويل

ولې داسي شوي

نو ته څه نوميږئ؟

څه نوميږي ؟

په اه سره يي

کله چي زما د پانړې نه

ولويده

وي وويل پر

پر

پرخه ...........

*****

مجيب الرحمن « خطيبي »

بازگشت به صفحه اصلی - www.said-afghani.org